**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو
د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# سلام اچول

## دويم ټولګی، دويم سمستر، لومړۍ سويه



د آزمايښتي دورې مرستندوی توکي

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو
د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# سلام اچول

د دويم ټولګي د شپاړسمې اونۍ لپاره

پښتو
افغانستان

د لوستلو دا مرستندوی کتاب د «افغان ماشومان يې لولي» پروژې
په تخنيکي مرسته تأليف شوی دی

ليکوال: سرمؤلف محمد سهراب ديدار

اډيټور: د مؤلف مرستيال نصير احمد امرخېل

انځور ګر: جواد طاهري

**د تصحيح کمېټه**

**----**

اسلامي: ګل آقا شايق

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ: فروزان خاموش

بسم الله الرحمن الرحیم



ښوونځي ټولګي ته راغله.
ويې ويل: السلام عليکم! ستړي مشئ!
ښاپيرۍ د ښايستې په غوږ کې څه وويل. دواړو ورو وخندل.

د ښوونکې ورپام شو. پوښتنه يې وکړه: څنګه مو وخندل؟
ښايستې وويل: ښاپېرۍ وايي مور خو مشرانې نه يو. نو ښوونکې څنګه راته سلام اچوي.
ټولو زده کوونکو وخندل.
ښوونکې هم وخندل.



ښوونکې وويل: هر څوک بايد

نورو ته سلام واچوي.

ښه نو!

سلام اچول څه ګټې لري؟

منيژې وويل: سلام اچول ثواب لري.
ښاپيرۍ وويل: څوک چې سلام اچوي، ډېر دوستان مومي.
ښاپيرۍ وويل: څوک چې سلام اچوي، ډېر دوستان مومي.
ښوونکې وويل: آفرين! سلام اچول په انسانانو کې مينه زياتوي.



ښاپیرۍ کور ته ورسېده.

د ښوونکې خبره ورياده شوه.

«زموږ پیغمبر (ص) به هر چا

ته سلام اچاوه.»

ښاپېرۍ کور ته ننوته.
مور ته يې ووېل: السلام عليکم مورجانې!



مور يې په خندا وویل: وعلیکم لورجانې!

مور يې ښاپيرۍ په غېږ کې ټينګه ونيوله.

په خوښۍ يې وويل:

خدايه شکر! لور مې داسې ښه کارونه زده کړي دي.

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پيرودل او پلورل يې په
کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.